مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۴/۰۳

# د لنډيو اصلي منابع خلک دي

## ۳۱مه‌برخه

### لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

### ۳۶۹مه برخه

دا دی یوځل بیا ښاغلي عبدالعزیز نایبي د فرهنګي مهرباني له مخې څو لنډۍ رالیږلي دي. په پیل کې یې څلور لنډۍ د اختر په ورځ (۲۰۲۶/۰۳/۲۱) راولیږلي او بیا یې ګڼشمېر نورې لنډۍ د ۲۰۲۶ ام کال د مارچ په ۲۲مه نېټه راولېږلې. له ښاغلي عزیز نائیبي نه په بیا ـ بیا مننې سره، دا لنډۍ له تاسو درنو لوستونکو سره شریکوم او د «لنډۍ، د ثبتولو ستونزه» نومې ټولګې په څلورم ټوک کې یې خوندي کوم:

**دا ته به راشي زه به نه یم**
**زړه به دې ډک وي ځوک به غږ نه در کوینه**

**د وطن ترخي مې خوراک وای**
**خوراک مې نه وای د پردي وطن ګلونه**

**دا ننی ورځ مې د مرګ ده**
**نن به د بل په کور کې ستر ماتوینه**

**دومره نازونه نخري مه کړه**
**په مور به ګران یې زه دې څه پروا لرمه**

**د جانان دوه ځایه ناستی وي**
**یا د سیند غاړه، یا د جګو غرو سرونه**

**د ژمي دولس میاشتې شپه وي**
**چې دوه مئین سره یوځای شي لنده شینه**

**د کلي لار به ورته نیسم**
**زما د زړه تاوان دې راکړي بیا دې ځینه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

داسې ښيرې مې درته کړي
که پنځه ورځې ژوند لرې، څلور به شينه

د ياراني مې ورته وويل
جينۍ تر کوره پورې ځي کنځل کوينه

د زړه رګونه مې خوږيږي
جانان په شونډو کې نصوار راکړي دينه

بې سجدې لمونځ درپسې وشه
په ما دې ړنګې مينې سر وګرځونه

په رنګ بدرنګ، په عمر تنګ شوم
په زړه څو رنګ د خپل جانان د لاسه يمه

په دنيا دوه کارونه نه واى
د ځلمو مرګ بل د تنکو نجونو ودونه

په زړه کافره غم دې پوې کړه
په نيمه شپه مې د زړه ور راټکوينه

پلار يې تيکتر، مور يې تيلر ده
لور يې ببلچه ده، هلکان ستړي کوينه

لږه بهر ورته راووځه
سپوږمۍ د ځان صفت کوي چې ښکلې يمه

ما د نيستيو زور ليدلى
ما اوريدلي د همزولو پيغورونه

ما ته په لار کې مه درېږه
زه يې په بدو کې وړه ورکړې يمه

ما د لالي وطن ته بوځئ
بيا کچکول راکړئ چې خيرونه تولومه

جينکو خپل کورګي اباد کړل
وړکو اباد کړل لرې، لرې وطنونه

جانان په سرو غرمو کې لو کا
خدايه ما باد کړې چې خولې يې وچومه

جينۍ واده شوه، لور يې وشوه
لکه سپوږمۍ په غيږ کې ستورى ګرځوينه

جانانه زوږ نيکه دې مړ شه
چې فاتحې ته يې درځم، ودې وينمه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**خدایزده چې زوړ شوم که بیمار یم**
**اوس چې پیتاوې ته کښنم، خوند راکوینه**

**که زوړ اشنا په مخه راغی**
**په نوي یار به ورته لار جارو کومه**

**زما دې شال په پرې زوړ کړ**
**ستا د سکرو له کانه نه خیږې لاسونه**

**زړه مې د لوړو غرو چینه ده**
**دا سیالني مرغان غرمې پرې تېروینه**

**زما جنت، جنت وطنه**
**ما غریبې ستا په کوڅو کې نه پرېږدینه**

**شرېشم په خپل پټي کرمه**
**چې مې جانان بیا څنې غوړې کرځوینه**

**نه یې د کټ سر ته ورتلی شم**
**نه د رنځور لالي له غمه خوب راځینه**

**ادې مې څوی نه دی راوړی**
**څومره بیوسه د دادا له کوره ځمه**

**ته د اشنا نه، ښایسته نه یې**
**ګلابه ولې په چرګ بانګ سپړې ګلونه**

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکي په ځیر و لولـئ